# پیشگام

سیاسی-تحلیلی

شمارهٔ دوم ★ زیر نظر هیئت تحریر ★ اسد ۱۴۰۲



رژیم آخوندی ایران هیچگاه دوست مردم ما شده نمی تواند

ص ۷

«دویمه سقاوی»، د سقویزم بربنډول که د توکمیزي کرکې پارل؟

ص ۲


## خپلواکي، بې له دموکراتیکو ارزښتونو بې مانا ده





## ضرورت همصدایی و همبستگی بیشتر برای زنان

زنان افغانستان در طول تاریخ در نظام‌های مختلف تحت تبعیض و ستم چند لایه قرار داشته اند. هر دولت و حکومتی که حاکم شده است، به نوبهٔ خود با شیوه‌های مختلف بر جسم و روان زن ستم روا داشته و زنان را به اشکال گوناگون تحت شکنجه قرار داده است. زنان به ویژه تحت حاکمیت اسلام سیاسی، بیشترین تبعیض، توهین، آزار، اذیت و آسیب بدنی، روحی و روانی را در کشور ما تجربه کرده اند. زن ستیزیِ حاکمیتِ اسلام سیاسی چنان بویناک و متعفن است که پیروان چنین طرز تفکری هرقدر تلاش می‌کنند تا گندش را کم کنند، بیشتر آن را به گند می‌کشند.

دورِ اول حاکمیت طالبان که با زن ستیزی هِستریک توأم بود، زنان را از هر نوع فعالیت اجتماعی، فرهنگی، اقتصادی و تعلیمی کنار گذاشت. نه سال حاکمیت تیوکراتیک دولت اسلامی ربانی و امارت اسلامی طالبان، جسم و روان زنان را چنان فرسوده و از کار انداخت که سال‌ها نیاز بود تا زنان بار دیگر قد برافرازند و برای اعادهٔ حقوق از دست رفته به مبارزه بپردازند. بیست سال حاکمیت پوشالی «جمهوریت» نه تنها نتوانست جسم و روان زخمی زنان را التیام ببخشد بلکه با سوءاستفاده از نام زن، زنان را به ابزاری برای فند و نمایش به کار گرفت؛ و به این شکل بدترین توهین را به زنان تحت ستم چند لایه انجام داد.

ما در حالی به استقبال هشتم مارچ، روز همبستگی بین المللی زنان می‌رویم که زنان افغانستان کماکان اسیر پنجه‌های کفتاران و دیوصفتانی اند که با هر عمل و حرکت، جز زن‌ستیزی وحشتناک چیز دیگری را به نمایش نمی‌گذارند. انگار برای اینان، مشغلهٔ دیگری جز مخالفت با زن وجود ندارد. سپردن افغانستان به دست وحوش طالب توسط امریکا و متحدان جنایتکار آن، زنان را که فکر می‌کردند تحت حاکمیت «جمهوریت» تا حدودی از آزادی‌های نسبی برخوردار شده اند (در حالی که استفادهٔ ابزاری از زنان در سرلوح هر عمل و فعالیت حاکمیت «جمهوریت» به وضوح دیده می‌شد)، بار دیگر در قفسی به بزرگی افغانستان اسیر ساخت. طالبان که این بار با امکانات بیشتر و دالرهای امریکایی بر حاکمیت لمیده اند و به گونه‌ای از حاکمِ امریکایی چراغ سبز برای هر نوع حاکمیت در کشور شغالی دریافت کرده اند، این بار نیز مانند دورِ قبلی بر هر آنچه زن و فعالیت زن نام دارد، چلیپا کشیده، با گذشت هر روز در تلاش محصور

ص٤

# «دویمه سقاوي»، د سقویزم بربنډول که د توکمیزې کرکې پارل؟

د «دویمه سقاوي» کتاب چې ظاهراً د شورای نظار او جمعیت اسلامي د جنایتونو د بربنډولو په موخه لیکل شوی،منځپانګه یې د پښتون واکمن طبقاتي شوونیزم پر ملاتړ ولاړه ده. دا کتاب سره له دې چې په اویایمې لسیزې کې د رباني ـ مسعود د اسلامي دولت جنایتونه، وژنې او ستمونه انځوروي، له ځان سره د توکمیزې کرکې ککړتیا هم لیږدوي. لیکوال په دقیقه توګه جهادیان؛ جنایتکاران، جاسوسان، مزدوران، قاتلان او لوټماران ګڼي، خو کله چې قلم یې پښتون اړوندو جنایتکارانو او داړه‌مارانو ته رارسیږي، دریځ یې لړزانه او پیکه کیږي او داسې ځان ناانګاره اچوي چې ګنې د جنایتونو غوښنه برخه غیر پښتنو جنایتکارانو تر سره کړې ده. لیکوال داسې د جمعیتي، شورای نظاري او وحدتي او دوستمي جنایتکارانو په اړه غربیږي چې ګنې ټول جنایتونه همدوی تر سره کړي او ګلبدین، سیاف او طالبانو نه یوازې چې هیڅ ډول جنایت نه دی تر سره کړی، بلکې د پښتنو د «استازو» په توګه مظلوم واقع شوي او ناچاره د خپل حق په پار جنګیدلي دي.

له هغه ځایه چې نه په واکمن شوونیزم او نه هم په تنګنظرانه ناسیونالیزم نشو کولای د ولسونو پیوستون خوندي او د فاشیستو غلیمانو په وړاندې د ولسي مقاومت ریښتینې جبهه پیاوړې کړو، نو موږ پیلیله چې د دې ساري ناروغیو د افشاء په موخه د «دویمه سقاوي» ځینې مهمې برخې تر ارزونې لاندې ونیسو. د دې خبرې یادونه اړینه ده چې یوازې پښتنانه شوونیستان په دې کرکجنه ناروغۍ اخته نه دي، بلکې ډیر شمیر داسې غیر پښتنانه فاشیستان او شوونیستان هم شته چې د پښتنو د واکمنې طبقې د شوونیزم په پلمه د پښتنو پر ضد کرکه پاروي او آن پر بیرحمانه وژنې یې لیکنیزه نخا کوي. موږ به په راتلونکې کې دا فاشیزم چې د تنګنظرانه ناسیونالیزم تر سیوری لاندې پټ شوی، هم بربنډ او افشاء کړو.

د کتاب لیکوال چې د حبیب الله کلکاني خادم دین رسول الله واکمنې لومړنۍ سقاوي او د رباني ـ مسعود اسلامي دولت دویمه سقاوي ګڼي، لیکي چې «د سقاو زوي په واکمنې سره په ټول هیواد کې یوه سراسري انارشي رامنځته شوه، نوې راټوکیدلی تمدن پرشا و تمبول شو، د خلکو عزت، حیا، سر او مال په خطر کې شو، پوهې او کلتور او د پرمختګ دروازې وتړل شوې» او «دا چې ولې دا اثر «دویمه سقاوي» ونومول شو، وجه یې دا ده چې د پیښو د تکرار ورتوالی سره زیات دی».

کتاب د توکمیز تعصب له امله یوازې د سقویزم له دوو بڼو غربیږي، حال دا چې که د افغانستان معاصر تاریخ ته ځغلنده کتنه وکړو نو سقویزم په بیلابیلو ډولونو راڅرګند شوی او لا دوام لري. د «دویمه سقاوي» لیکونکی، د دې په ځای چې سقویزم له ایدیولوژیک او فکري پلوه بربنډ کړي، هغه ته د قوم او ژبې جامه وراغوندي. دا سمه ده چې سقویزم له حبیب‌الله کلکاني سره پیل شو، خو د تاریخ په اوږدو کې بیلابیلو واکمنو په مختلفو درجو یا د سقویزم ملاتړ کړی او یا هم د سقویزم پلې کیدونکي پاتې شوي دي.

سقویزم څه ته وایي؟ وار دمخه باید یادونه وکړو چې دلته د «سقویزم» د اصطلاح کارونه، له هغه طبقاتي دریځ سرچینه نه اخلي چې واکمنه طبقه یې د حبیب‌الله کلکاني د سپکاوي او تحقیر په موخه کاروي. همدا طبقاتي سپکوالی دی چې د «دویمه سقاوي» لیکوال هم په طعنه او پیغور حبیب‌الله کلکانی له بوټ خرخوونکي سره مزدور، د سماوارچي شاګرد او د خان مزدور ګڼي. لیکوال په دې توګه غواړي ووایي چې قدرت، واک او دولت د شتمنو، پانګه والو او د اربابانو او خانانو کار دی نه د بزګرو او نادارو کارګرو.

له سقویزم څخه موخه هغه جریان او بهیر دی چې د پیل شوي پرمختګ مخه ډب کړي، شاتګپالي دود کړي، تمدن وځپي، ښځځپلی استبداد یې ورځنۍ چاره وي؛ د خلکو فردي، شخصي، ټولنیزه او سیاسي آزادي یرغمل کړي، مذهبي فاشیزم واکمن کړي، د ښکیلاک په مریبتوب او جاسوسي روږدی وي، ویره، ترهه او داړه ماري یې چلند وي او له ناتار او ناورین پرته بله بوختیا ونلري. سقویزم یعنې هغه اسلامي دولت او نظام او واکمنتیا چې د خلکو د هوساینې لپاره نه یوازې دا چې برنامه درلودلی نشي، بلکې د دیني استبداد په وسیله له مدرنیزم او پرمختګ سره دښمني کوي، له میرمنو سره جنوني عداوت لري او یوازینۍ دنده یې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پلي کول دي. سقویزم، یوازې په اسلامي دولت او اسلامي نظام کې خپله څیره نه ښکاره کوي، بلکې ګوندونه او آن افراد کولای شي په سقویزم اخته وي. سقویزم په دوو بڼو راڅرګندیږي، یو ښکاره سقویزم چې په ډاګه دیني استبداد او شاتګپالنه غواړي او بل پټ، چې ظاهراً د «دموکراتو» او «متمدن پلوه» افرادو او ګوندونو لخوا یې تنګه کیږي، چې دا بڼه یې له لومړنۍ خطرناکه ده.

لومړنۍ مسئله چې ورباندې ښایي تم شو هغه دا ده چې سقویزم یو ژبې او توکم او قوم پورې محدودول، د شوونیستي اند زیږنده ده. سقویزم ملیتي او قومي نه، بلکې ایدیولوژیک او سیاسي بهیر دی. که حبیب الله کلکانی د سقویزم بنسټ ایښودونکی و نو جهادیان د اسلامي دولت په اډانه کې د خپل قاید ریښتیني پیروان وو. د ګلبدین، سیاف او یونس خالص سقویزم د رباني، مسعود، مزاري او شیخ آصف محسني سقویزم سره کوم توپیر نه درلود او نلري. همدا ډول د ملاعمر سقویزم چې د ملا هبت الله په بڼه لا ادامه لري، د حبیب الله کلکاني له سقویزم سره نه یوازې چې فرق نلري، بلکې لا بوین او وږمجن دی. د سقویستانو یو مشترک مخرج له «خادم دین رسول‌الله» ننګه او له امان الله خان کرکه ده، یعنې د شاتګپالۍ ننګه او ملاتړ او له پرمختګ او تمدن کرکه. څرنګه چې مسعود او رباني او پلویانو یې د «خادم دین رسول‌الله» ملاتړ کوي او هغه خپل «اتل» ګڼي، همداسې ګلبدین، سیاف، ملاعمر او ملاهبت الله هم د «خادم دین رسول‌الله» خواخوږي دي او څرنګه چې مسعودیان او جمعیتیان له امان الله خان کرکه لري، همداسې ګلبدینیان او سیافیان او طالبان هم له امان الله خان کرکه لري. پایله دا چې سقویزم ملیت او توکم، ژبه او قوم نه پیژني، هغه فکري لید دی چې دیني فاشیستان ورباندې باور لري او خپل سیاسي حیات او ژوند د همدې کرغیړنې ایدیولوژۍ په بقا کېویني.

دویمه مسئله چې په دې کتاب کې وینو هغه شوونیستي باور دی چې لیکوال یې توکمیزې کرکې پارونې ته هڅولی او په ښکاره نورو ملیتونو او قومونو ته سپکاوی او توهین کوي. لیکوال د دې تر څنګ چې په ناسم ډول باور لري چې «د سیاسي واک داخلي سرچینې» پښتنانه دي، نور ملیتونه او قومونه په نامستقیم ډول ځان پلورونکي، د بهرنیو غلامان، ډارن او غوړه مالان بولي. «دویمه سقاوي» د ګوډاګي ببرک کارمل واکمنتیا ته په اشاره سره لیکي چې «دوی (روسانو) فکر کاوه چې لږکي له سیاسي پلوه بی ثباته وي، ژر استعمالیږي او د خوږو ترخو زور ته ژر غاړه ږدي» خو لیکوال هیروي چې مریبان د هر ملیت او توکم چې وي، هیواد پلورونکي، جاسوسان، نوکران، ډارن او غوړه مالان وي. د افغانستان معاصر تاریخ په روښانه ښیي چې په هر توکم او ملیت کې داسې خاینان وو او دي چې په ډار او جبن او غلامۍ

مخ۳

# «دویمه سقاوي»...

یې وطن په بهرنیو پلورلی او پلوري. که له شاه شجاع او نورو ښکیلاک پلوه پاچاهانو تیر شو، که ببرک کارمل د روسانو خوړو ترخو زور ته ژر غاړه کېښوده، تره‌کی، امین او نجیب هم په دې سیالی کې شاته پاتې نشول. که رباني او مسعود لومړی د پاکستان نوکران وو او بیا د رسیې، فرانسې، ایران او هند؛ نو ګلبدین، سیاف، یونس خالص، جلال الدین حقانی او نور هم په دې پړې تړل شوي وو او دي. که مزاري د ایران نوکر او ایجنټ و او که دوستم د ازبیکستان او ترکیې،



نو ملاعمر او ملاهبت الله هم د پاکستان په نوکرۍ کې لوړ ځای درلود او لري.

لیکوال هڅه کوي دې کرکې پارونې ته د «علم» جامه وګنډي: «ټولنپوهنې علم، عملي ورځنې ژوند او کړکیچونو سیاسي، پوځي او اقتصادي شرایطو او د دې تر څنګ بهرنیو لاسوهنو دا په ډاګه کړې چې لرګې او د هغوې د حقوقو مدعیان د سختو بحراني شرایطو او له هغه سره د مبارزې تاب نلري.» خو د «دویمه سقاوي» لیکوال چې په خپله په سقویزم ناروغی اخته دی، له یاده باسي چې د افغانستان په تاریخ کې هر کله چې زموږ هیواد تر تیري او یرغل لاندې راغلی، ټولو ملیتونو، توکمونو او قومونو په ګډه د خپل وس او توان په اندازه د ښکیلاک ضد مبارزې ته اوږه ورکړې او که په دې منځ کې هیوادپلورونکي او غلامان پیدا شوي نو له هر قوم او ژبې یې بیلګې درلودلې شو.

د «دویمه سقاوي» لیکوال چې باور لري د افغانستان سیاسي واک




داخلي سرچینو له مخې له پښتنو سره دی او له دې پرته هر څه چې تر سره کیږي هغه ناتار زیږوونکی دی، له دې کبله لیکي: «زموږ د هیواد په معاصر تاریخ کې درې ځله په ناطبیعي ډول او د پردیو په همکارۍ او مرسته د سیاسي واک داخلي سرچینې پرځای د واک د یوې مصنوعي سرچینې د جوړولو هڅه وشوه... دې هر ناتار زموږ ټولنه د پرمختګ له بهیر او نړیوال تمدن څخه په لسګونو او سلګونو کاله شاته کړه او د ګران افغانستان حیثیت او نړیوال حقوقي شخصیت ته یې درون زیان واړو.» په دې کې شک نشته چې «خادم دین رسول‌الله» د انګریزانو او مرتجع ملایانو په مټ، رباني ـ مسعود او په ټوله کې جهادیان د پاکستان په ملاتړ او ببرک کارمل د روسانو په زور واک ته ورسیدل. خو بل اړخ ته داسې ډیر پښتانه واکمنان هم تیر شوي چې په ناطبیعي ډول او د پردیو په همکارۍ او مرسته قدرت ته رسیدلي دي. که له نورو تیر شو، د «دویمه سقاوي» د لیکلو پر مهال طالبان د اسلامي امارت په بڼه د امریکا، انګلستان، سعودي عربستان او پاکستان د ګډې پروژې په توګه قدرت ته ورسول شول. که د خادم دین رسول‌الله پاچاهي او د رباني - مسعود اسلامي دولت ناتار وزیږوو نو د طالبانو اسلامي امارت هم داسې ناورین رامنځته کړ چې ټوله یې د هر ډول پرمختګ او تمدن څخه په سلګونو کلونو شاته وغورځوله. اوس هم



ګورو چې دا سقویستان څرنګه له تمدن او پرمختګ کرکه لري او د افغانانو او د افغانستان حیثیت او ویاړ د خادم دین رسول‌الله په شان لتاړوي.

د سیاسي واک داخلي طبیعي سرچینه، خلک دي، نه د ملیت او توکم تیکه داران. د ستمګرانو، لوټمارانو، مربیانو، جاسوسانو او مذهبي فاشیستانو «ملیت» او «توکم» یو دی. پښتون اړوند لوټماره حاکمه طبقه له ټولو لومړی له پښتون ولس او په تیره بیا د پښتون اړوند ټیټو طبقو سره خیانت کړی او کوي. همدا ډول د تاجیکو اړوند چپاولګره حاکمه طبقه تل د تاجیک ولس قرباني کړی او کوي. د ازبیک ستمځپلي ولس د همدې ملیت واکمنې ستمګرې طبقې زبیښلی او زبیښي او د هزاره واکمنان تل دا زیارکښ او تر ستم لاندې ولس د خپلو موخو لپاره قربانوي. دا ټول په ډاګه ښکاره کوي چې ولس او پرګنې چې د سیاسي قدرت اصلي داخلي سرچینې جوړوي، له بده مرغه نه یوازې چې واک نلري بلکې د ټولو قومونو ستمګران هڅه کوي چې د دوی د یووالي، پیوستون او ګډې مبارزې مخه ډب کړي. د افغانستان په معاصر تاریخ کې امان‌الله خان یوازینی هغه واکمن تیر شوی چې د ټولو ملیتونو او وګړو د هوسایني او آرامی لپاره یې د خپل وس او شرایطو سره هڅه وکړه. همدا هم و



چې هزاره‌ګان نه یوازې په کابل کې د امان‌الله خان په ننګه د سقویزم په ضد وجنګیدل بلکې په مقر کې د جاغورې هزاره‌ګانو تر څنګ د بهسودو، مالستان او نورو هزاره میشتو سیمو څخه په زرګونو خلکو د امان‌الله خان په ملاتړ او د سقویزم په ضد د هغه تر څنګ وړدیل، حال دا چې په مشرقي او جنوب کې یو شمیر زیات پښتانه د سقویزم په ملاتړ بلواګانې کولې او د دې ناورین پلویان وو.

د لیکوال سقویزم هغه وخت لاروښانه کیږي چې کله اسلام ته رارسیږي. لیکوال سره د دې چې د «خادم دین رسول‌الله» اسلامي امارت او د رباني ـ مسعود اسلامي دولت دواړو ته د دې امله چې نوې راټوکیدلې تمدن یې وځپو او د پوهې

مخ ۵

# مینه و آزادي

# غواړم


# ځان قربانوم

# د مینې لپاره

# مینه

# د آزادۍ لپاره





شاندور پتوفی مجارستانی انقلابی شاعر

## ضرورت همصدایی...

ساختن آنان در چاردیواری خانه و پیچیدن شان در کفنی به نام حجاب اند. طالبان درین مدت کوتاه، دهها زن را به گونهٔ مرموز سر به نیست کرده و یا با شکنجه‌های حیوانی، جسم و روان شان را آزرده اند.

مخالفت هیستریک طالبان با زنان بعد از نصب دوباره بر قدرت برای افراد و گروه‌هایی که فکر می‌کردند طالبان تغییر کرده اند، شوک‌دهنده بود؛ اما برای کسانی که فهمِ درستی از اسلام سیاسی دارند، هرگز چنین نبوده است. آنان ماهیت سادیست و زن‌ستیز این گروه را به خوبی می‌دانستند و درک می‌کردند که روزگار زنان تحت حاکمیت این گروه متحجر سیاهتر از گذشته خواهد شد. درین میان، عده‌ای در تلاش اند تا به علت تعلقات قومی و زبانی، عمل و مخالفت طالبان را مقابل زنان فقط به قوم و زبان ربط دهند، نه اسلامِ سیاسی. در حالی که همه به خوبی می‌دانیم که طالبان و یا هر گروه اسلامگرای دیگر متعلق به هر زبان و قوم و نژادی که باشند، برخورد شان چیزی بهتر از برخورد طالبان با زنان نخواهد بود، چنان که تاریخ معاصر افغانستان گواه این مدعاست.

در شرایطی که گروه متحجر طالبان با تبعیض سیستماتیک و ستم آشکار بر زنان، زندگی را بر آنان به دوزخ مبدل ساخته و به حاکمیت ننگین خود ادامه می دهد، در گام نخست بر زنان آگاه و مبارز است تا بیش از پیش منسجم و فعال شده و با تمام قوا صداهای پراکنده و نامتشکل خود را به صدای واحد و برای هدف واحد که همانا رهایی زن از بند تحجر طالبی و زنجیر مردسالاری و سرمایه است، مبدل سازند. طالبان از اعتراضاتِ خودجوش زنان که با تأسف هیچ گروه یا سازمان مترقی در سمت‌وسو دادن آن دخیل نیست، چنان به وحشت افتاده اند که در هر فرمانی که بیرون می‌دهند، برای به بند کشیدن بیشتر زنان حتماً مادهٔ زن ستیزانه‌ای را در آن می‌گنجانند. طالبان متحجر می‌دانند که آگاه و متشکل شدن زنان به معنای ختم حاکمیت ننگین این گروه به حساب می‌آید، لذا اولین اقدام شان بستن تمامی درهای علم و آگاهی و استقلالیت بر روی زنان بود. در نظر طالبان و بسیاری از مرتجعان مردسالار، زن فقط ماشین چوچه‌کشی و خواباندن امیال جنسی مرد پنداشته می‌شود، نه اینکه به خیابان براید و صدای اعتراض خویش را بلند کند.

سمت‌دهی اعتراضات زنان و ضرورت همصدایی و همبستگی بیشتر با زنان از اولویت‌های مبارزاتی تمامی گروهها و سازمان‌های آزادیخواه، سکیولار و مترقی است تا این اعتراضات از خواست‌های صرفاً اقتصادی و کوچک فراتر رفته، زمینهٔ سرنگونی تاریک اندیش‌ترین گروه حاکم بر سرنوشت مردم ما را فراهم سازد. جامعهٔ مردسالار و حاکمیت اسلام سیاسی به هیچ وجه زنان را از



چاردیواری خانه بیرون اجازه نمی‌دهد، چه رسد به اینکه خود را متشکل سازند. برای تشکل پذیری زنان از هر روزنه‌ای باید استفاده کرد تا بتوان بر مشکلِ ناشی از عدم تشکل پذیری فایق آمد. همصدایی و همبستگی با زنان بدون سازماندهی و تشکل پذیری ناممکن است، زیرا اعتراضات چنان که تا حال دیده‌ایم، به هدف مطلوب نمی‌رسد. برای اینکه زنان بر سرنوشت خویش حاکم شوند و دست و پای خود را از زنجیرهایی که طی قرن‌ها بر جسم و روان شان پیچانیده شده، رها سازند، راهی جز متشکل شدن ندارند. هشتم مارچ، روز بین المللی زنان نباید فقط در سالون‌های مجلل و لوکس از سوی زنان پروژه‌ای تجلیل شود، بلکه بر ضرورت اتحاد، همبستگی و همدلی بیشتر زنان از طریق متشکل ساختن شان تأکید و برای این مهم، عملاً کار صورت گیرد.

# «دویمه سقاوي»...

او کلتور او د پرمختګ دروازې یې وتړلې، د «سقوي» نوم ورکوي خو له هغه ځای چې په خپله په سقویزم، البته د سقویزم په پښتون وژن مین دی، نو وايي چې «د اسلام سپیڅلی دین د افغانستان د ټولو قومونو تر منځ د وصل کړۍ حیثیت لري، ټول قومونه او وګړي پر اسلامي عقیده راټولیږي، نو په افغانستان کې د اسلامي عقیدې ټینګښت د افغانستان د ملي یووالي د ټینګښت سبب کیږي. د افغانستان ملي وحدت د ټینګښت لپاره د اسلام مبین دین، تبلیغ، ترویج او ټینګښت ته اساسي اړتیا ده.»

دا چې د اسلام کومه بڼه د ولسونو تر منځ د وصل کړۍ ده او قومونه وربانديې راټولیدلی شي، د لیکوال له توضیح دې پایلې ته رسیږو چې موخه یې سیاسي اسلام دی. «د اسلامی عقیدې ټینګښت»، «تبلیغ» او «ترویج» لپاره کار د یو اسلامي نظام دنده ده. لیکوال د «ملي یووالي د ټینګښت» په پار دا سفارش په داسې وخت کې کوي چې په افغانستان کې دوه اسلامي نظامونه هممهاله واک چلوي: د رباني ـ مسعود اسلامي دولت او د ملاعمر اسلامي امارت؛ خو یو یې هم نه یوازې چې نشي کولای د افغانستان د ملي وحدت لامل شي بلکې د ولسونو تر منځ وحدت لا ځپي او په نفاق یې بدلوي. که له دې دواړو تیر شو او د افغانستان اسلامي جمهوریت او د ملا هبت‌الله اوسنی اسلامي امارت وګورو نو دې پایلې ته رسیږو چې نه یوازې ملي وحدت تامین نشو او نه کیږي، بلکې ورځ تر بلې د ولسونو نسبي وحدت زیانمن او پیوستون یې ټکنی شوی دی.

لیکوال په داسې حال کې چې ګوري د خادم دین رسول الله لومړی سقویزم، د رباني ـ مسعود اسلامي دولت دویم سقویزم او د ملاعمر اسلامي امارت دریم سقویزم د دین او اسلام د وسیلې په کارولو سره د پرمختګ مخه ډب او پیلیدونکی تمدن پر شا وتمباوه او درې واړو سقویستانو د ښځو تعلیم او تحصیل فحشا وګڼله، خو لا هم د سیاسي اسلام پر ټینګښت ټینګار کوي. په کراتو مو لیدلي چې د سیاسي اسلام ټینګښت له سقویزم پرته بله لاره نلري. د امان‌الله خان پرمختللي سمونه ملایانو، پیرانو او سیدانو وځپل. دې ملایانو د امان‌الله خان په نوښت ټول هغه قوانین چې د پرمختګ لامل کیدل، د مذهب ناسخ او د اسلامی شرعې ضد وګڼل او دا ترقي غوښتونکی پاچا یې اړ کړ چې د فشارونو لاندې شاتګ وکړي. هر هغه څوک چې د سقویزم ضد وي، نشي کولای د سیاسي اسلام ننګه وکړي او دا ابزار د ملي وحدت د ټینګښت او پیوستون لپاره اغیزمن وګڼي. یوازینی کار چې سیاسي اسلام کولی شي، د شاتګپالۍ ترویج او حمایت دی او سقویزم د سیاسي اسلام افغاني ورژن دی.

د سقویستانو یوه بله ځانګړنه، استبداد او هغه هم مذهبي استبداد دی. په دې ځانګړنه کې د «دویمه سقاوي» لیکوال هم ورګډ دی. د سقویزم د بهیر له پیدو مخکې امان‌الله خان د ټولو ملیتونو او توکمونو مذهبي مراسم او تکیه‌خانې آزادې کړې او نه یوازې د هنودو او سیکهانو په وړاندې مذهبی تبعیض یې له منځه یووړ، دا قوم یې په دولتي چارو کې هم ورګډ کړ خو کله چې سقویزم له مذهبي استبداد سره حاکم شو او خادم دین رسول‌الله اعلان وکړ چې «تمام رویه را بر طبق مذهب حنفی نمودم» دا مذهبي آزادي هم له منځه ولاړه. د «دویمه سقاوي» لیکوال چې د پښتون سقاویستانو د واکمنتیا ملاتړ کوي او د همدې لپاره د سقویزم له منځپانګې سره کومه ستونزه نلري د خادم دین رسول‌الله د سقویزم سره سم سفارش ورکوي چې «څرنګه چې د افغانستان د نفوس غوڅ اکثریت مسلمانان دي او بیا اکثریت یې د حنفي مذهب پلویان دي، نو د اکثریت د حقوقو په پام کې نیولو سره حنفی مذهب د هیواد د رسمي مذهب په توګه منل په کار دي... حنفي مذهب تر څنګ د بل مذهب رسمي کول په هیواد کې مذهبي او قومي اختلافونه زیاتوي او ملي وحدت ته زیان رسوي.»

دا ډول سقویستي سفارشونه نه یوازې چې ملي وحدت ټینګولای نشي، بلکې د سقویزم او استبداد د لا غښتلتیا او د ملي نفاق باعث کیږي. تاریخ ښودلې چې ملي وحدت هغه وخت د ټینګیدو خوا ته روان شوی چې د سیاسي اسلام او د سقویزم په ځای د مذهبي آزادۍ تر څنګ د تمدن جرس وهل شوی دی. موږ هغه پرمختللې ټولنې ته اړتیا لرو چې وګړي یې د نژاد، مذهب او قوم او ژبې پر اساس تبعیض او تفریق ونلري، دا ټولنه په سیاسي اسلام او په سقویزم نه جوړیږي؛ فرق نکوي چې د خادم دین رسول‌الله سقویزم وي که د رباني- مسعود، که د ګلبدین- سیاف او که د ملاعمر- هبت‌الله سقویزم. سقویزم یو زهرجن بوټی دی، ښایي له جرړې وویستل شي!

له سقویزم څخه موخه هغه جریان او بهیر دی چې د پیل شوي پرمختګ مخه ډب کړي، شاتګپالي دود کړي، تمدن وځپي، ښځځپلی استبداد یې ورځنۍ چاره وي؛ د خلکو فردي، شخصي، ټولنیزه او سیاسي آزادۍ یرغمل کړي، مذهبي فاشیزم واکمن کړي، د ښکیلاک په مرییتوب او جاسوسي روږدی وي، ویره، ترهه او داړه ماري یې چلند وي او له ناتار او ناورین پرته بله بوختیا ونلري. سقویزم یعني هغه اسلامي دولت او نظام او واکمنتیا چې د خلکو د هوساینې لپاره نه یوازې دا چې برنامه درلودلی نشي، بلکې د دیني استبداد په وسیله له مدرنیزم او پرمختګ سره دښمني کوي، له میرمنو سره جنوني عداوت لري او یوازینې دنده یې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پلي کول دي. سقویزم، یوازې په اسلامي دولت او اسلامي نظام کې خپله څیره نه ښکاره کوي، بلکې ګوندونه او آن افراد کولای شي په سقویزم اخته وي.

# با قباحت زدایی از جنایتکاران...

واژه‌ها، ترانه‌ها، شعرها و نوشته‌های مزدی و کرایی تطهیر کنند. وحید قاسمی، ضمن اینکه برای احمدشاه مسعود ترانه‌سرایی کرد، مدیحه‌سرایی برای عطا محمدنور را فراموش نکرد؛ داوود سرخوش اگر برای مزاری خواند، گلزمان دوستم و عبدالله را فراموش نکرد؛ منیژه باختری اگر از مدح و ستایش «امپراتور بلخ» دست نمی‌کشید و لینا روزبه برای مسعود نظم می‌گفت، اسماعیل و آرین یون پابیوسی گلبدین را افتخار خود می‌دانستند؛ اگر سعدالله شپون از گرامی‌داشت یونس خالص کوتاه نیامد، حمیرا قادری «سلام»اش را به عبدالرشید دوستم فراموش نکرد؛ اگر باقی سمندر برای پذیرایی از دوستم زیر بال طیاره انتظار کشید، فرهاد دریا از همنشینی با یونس قانونی کوتاه نیامد و بالاخره رنگین دادفر سپنتا ماموریت قباحت‌زدایی از جنایتکاران را چنان سفیهانه به پیش برد و می‌برد که جز شرم و ننگ بر آن هیچ نامی نمی‌توان نهاد. او نه تنها به دست‌بوسی جاسوسی مثل مجددی رفت بلکه تلاش کرد با بغل گرفتن قاتلانی چون اسماعیل و سیاف آنان را «متمدن» نشان دهد. او که زمانی احمدشاه مسعود را «سنگ‌فروش کوهستان» خوانده بود، اکنون این سنگ‌فروش «قهرمان ملی» اوست.

روشنفکر مدافع تبار و زبان، با وجود جنگ‌های ستمگرانهٔ جهادی، کشتار و ویرانی، تجاوز بر زنان، سینه‌بری، شپش‌فروشی، راکت‌پرانی، میخ زدن و رقص بسمل، بربادی و زن ستیزی؛ در قباحت‌زدایی از قاتلان همزبان و همتبارش و نفرت و کینه از قاتلان غیر همزبان و همتبارش خستگی نمی‌شناسد. روشنفکر مدافع زبان و تبار در پای قتل و کشتار گلبدین زانو می‌زند اما از قتل و کشتار مسعود نفرت می‌کند، او به پای جنون مذهبی و خون ریزی‌های ربانی سر خم می‌کند اما از جنون مذهبی حقانی‌ها نفرت دارد. او با سرکشیدن خون از سفرهٔ اسماعیل‌خان مست می‌شود، اما سفرهٔ خونین ملابرادر برایش عق‌آور است؛ او در رقصِ بِسمل مزاری سرمست، اما از ترنم طالبی متنفر است.

تلاش برای قباحت‌زدایی از جنایتکاران به اینجا ختم نمی‌شود. اکنون که جنایتکاران طالب دوباره حاکم شده اند، عده‌ای از روشنفکران چنان غبطهٔ دیروز را می‌خورند، تو گویی بهشت برین شان را از دست داده اند. به باور اینان در بیست سال گذشته ستمگران خارجی و دولت پوشالی، افغانستان را چنان گل و گلزار ساخته بودند که خاری هم به پای کس فرو نرفته است. اینان قتل و کشتار بیست سال گذشتهٔ متجاوزین خارجی را دیده نمی‌توانند، بمباردمان و شکنجه و تجاوز را دیده نمی‌توانند و بر همه اجحاف و ستمی که بر توده‌ها رفته است، چشم می‌بندند. اینان با قباحت‌زدایی از دولتمردان پوشالی و ستمگران خارجی در تلاش تداوم کشتار در کشور ما هستند. اینان قتل و کشتار خارجی را دوست دارند، اما از کشتار طالبی و داعشی نفرت دارند. اینان با خاک یکسان کردن قریه‌های مردمِ فرودست با بم‌های خارجی را دوست دارند، اما از ستم طالبان متنفرند؛ و این‌سان با نفرت از طالب، ماموریت قباحت‌زدایی از قاتلان «دموکراتیک» را به پیش می‌برند. تقدیس یک جنایت و لعن جنایت دیگر، خیانتی است که شاهد آن هستیم. شماری از روشنفکران شاعر، نویسنده و هنرمند ما با وجود دانستن کارنامه‌های قتل و کشتار پولیگونی، اعدام‌ها و سر به نیست کردن‌ها، اسارت و زندان و شکنجه و قتل‌عام های بیست و چهار حوت، کرهاله و... توسط جنایتکاران «بیدل شناس»، مترجمین «کلیله و دمنه»، شاعران و هنرمندان و نویسندگان «خلقی- پرچمی»، در صدد قباحت‌زدایی از این جنایتکاران هستند. اینان حامی جنایتکارِ «هنرمند»، «نویسنده»، «دموکرات» و «خوش‌تیپ» هستند اما از جنایتکار چتل و بدتیپ و «مستبد» نفرت دارند. اینان قاتلان و جنایتکاران لوکس، نکتایی‌دار، عطرآگین، شهری، سخنران، نویسنده، نقاش، کتابخوان و خوش‌سخن را دوست دارند اما انزجار شان را از جنایتکاران لنگی‌دار، پشم‌آلود، چپلک‌پوش، روستایی و مدرسه‌ای پنهان نمی‌کنند. اینان قاتلان مست در واین و شراب و سیگار و قیلون، قاتلان نشئه در زلفِ یار و رباب و غزلِ حافظ و رباعی خیام و شعر رحمان و خوشحال را دوست دارند، اما قاتلان مست در نسوار و تفدانی و لواط و خمار در کتاب‌های زرد «بازار قصه‌خوانی» برای شان شناعت و قباحت دارد.

قلم روشنفکرِ حامی مردم حساب و کتاب دارد. او به مردم عشق می‌ورزد و با تمام توان از منافع آنان دفاع می‌کند. حساب او با جنایتکارانی که سبب قتل و کشتار و درد شده، معلوم است. فریبِ «شعر»، «هنر»، «ترجمه»، «بیدل‌شناسی»، «کتاب»، «هنر»، «تحقیق و پژوهش» و «کارشناسی» و «مولاناشناسی» و «رحمان‌شناسی» و... هیچ جنایتکاری را نمی‌خورد. او وقتی با این جنایتکاران نویسنده و هنرمند روبرو می‌شود، فراموش نمی‌کند که چه تعداد روشنفکران، نویسندگان، شاعران و فرهنگیان آزاده زیر ساطور رژیم خونین اینان سر به نیست شده اند.

روشنفکر ما با دو فرقه روبروست: فرقهٔ مردم و فرقهٔ ضد مردم. آنی که میان این دو، دیوار چین می‌کشد؛ حامی مردم و رهایی آنان است؛ آنی که در صدد فرو ریختن و یا کم عرض‌سازی این دیوار است و زیر نام «شعر»، «فرهنگ»، «هنر» و «ادبیات» از جنایتکاران قباحت‌زدایی می‌کند و لابد آنان را به انسان‌های متمدن و مظلوم و چهره‌های «درخشانِ» فرهنگی و هنری و ادبی تبدیل می‌کند؛ آگاهانه و ناآگاهانه در فرقهٔ ضد مردم قرار می‌گیرد.

قباحت‌زدایی از جنایتکاران، از هر گروه و قماشی که باشد، خیانت آشکار به مردم است، زیرا: ۱) با تطهیر جنایتکاران، عمر جنایت، طولانی می‌شود. عادی‌سازی جنایت، به معنی تکرار جنایت است. جنایت‌دوستی بر بنیاد هنر، شعر، نویسندگی، تحقیق و پژوهش و ترانه‌سرایی و زبان... خو دادن مردم با جنایت بوده و هرگاه جنایت را عادی بسازیم به تداوم حاکمیت جنایتکاران و قربانی مردم کمک کرده‌ایم. تلاش برای شستن دستان خونین جنایتکاران، نه تنها کمکی برای نابودی جنایت نمی‌کند، بل دست‌های بیشتری را با جنایت خونین می‌سازد. یکی از علل حاکمیت دوبارهٔ جنایتکاران طالب، تطهیر جنایتکاران جهادی و غیر جهادی و خارجی است. اگر روشنفکران ما جنایتکاران جهادی و غیر جهادی و ستمگران خارجی را افشاء می‌کردند و به جای ستایش و مدح، چهرهٔ واقعی جنایتکاران را برملا می‌ساختند، امروز وضعیت بهتری علیه جنایتکاران طالب می‌داشتیم. ۲) قباحت‌زدایی از جنایتکاران، مردم را به نفاق قومی و زبانی سوق می‌دهد؛ کاری که به سود جنایتکاران موجود و به زیان همبستگی مردم علیه جنایتکاران تمام می‌شود. متأسفانه امروز شماری از روشنفکران پشتون موضع‌گیری قاطع ص۸

# رژیم آخوندی ایران

## هیچگاه دوست مردم ما شده نمی تواند!

رژیم جنایت پیشه «جمهوری اسلامی ایران» که از سال ۱۳۵۷ بدین سو قدرت را در دست گرفته، انواع جنایات و قتل عامها را در ایران به راه انداخته است. این رژیم که با حمایت استخباراتی و مالی غربی‌ها با فرستادن خمینی از فرانسه شکل گرفت، از اوان شکل گیری‌اش از هیچ نوع جنایت در حق مردم ایران دریغ نکرده است. قتل عام‌های ۱۳٦۳ و گورهای دسته‌جمعی در خاوران، تجاوز به دختران باکره پیش از اعدام، کشتارهای ماه دلو ۱۳۹۸، شکنجه و دستگیری هزاران روشنفکر معترض به رژیم، شکنجه و کشتن مهسا امینی که جرقه‌هایی برای خیزش‌های سراسری مردم را به همراه داشت و در آن صدها نفر را زندانی، اعدام و سر به نیست کردند، نمونهٔ کوچکی از جنایات ولایت فقیه رژیم جنایتکار ایران است.

از این همه گذشته، با شروع جنگ‌های داخلی در دهه هفتاد در افغانستان و پروژه جهاد امریکا، ایران نیز هشت تنظیم جنایتکار و خونریز را ساخت؛ برای شان سلاح، پول و امکانات استخباراتی و لوژستیکی فراهم کرد تا مردم افغانستان را بکشند و شهرها را ویران کنند، نوکران هفتگانه با مزدوران هشتگانه مشترکاً تنها در کابل ٦۵۰۰۰ نفر را کشتند و این شهر را به ویرانه تبدیل کردند.

ایران در افغانستان منافع زیادی را دنبال می‌کند.این منافع شامل منافع سیاسی، اقتصادی و صدور فرهنگ آخوندی به افغانستان است.کالاهای بنجل و نفت آلوده به سرب و بی کیفیت ایرانی که در دیگر نقاط دنیا بازار چندانی ندارد، به افغانستان صادر می شوند.این رژیم اسلامی ضمن اینکه به منابع طبیعی کشور ما چشم دوخته است، سالهاست که میلیاردها متر مکعب آب دریای هلمند را بدون معاوضه به مصرف می رساند، در حالی که زمین های کشور ما خشک و لامزروع باقی مانده است. ایران از جوانان کشور ما بدترین استفاده ابزاری بعمل آورده و به همکاری نوکران جهادی اش هزاران تن از جوانان کشور ما را با تطمیعِ دادن شهروندی و پول به جبهات جنگ سوریه فرستاده و مقابل گلوله های داعش قرار داده اند. قاسم سلیمانی جلاد مشهور ایران از طریق شاخه های گوناگون حزب وحدت اسلامی مردم افغانستان، هزاران جوان تهیدست را از مناطق مرکزی افغانستان در لشکر فاطمیون جذب کرده است.

وضعیت مهاجران افغان که سال‌های سال در ایران زندگی کرده اند و در آنجا به دنیا آمده به حدی اسفبار است که قابل مقایسه با هیچ کشور دیگری در دنیا نیست. در ایران یک مهاجر افغان حتی به نام خودش سیمکارت خریده نمی‌تواند، جواز رانندگی گرفته نمی‌تواند، اطفال برای درس خواندن در مکاتب ایران باید از هفتخوان رستم بگذرند و تحقیرهای نژادپرستانه و ننگین «مسئولین» وابسته به رژیم آخوندی را تحمل کنند.

رژیم آخوندی ایران بنابر ماهیت فاشیستی اش همیشه از نیروهای بنیادگرا، مرتجع و فاشیست در افغانستان حمایت کرده است.

این رژیم زمانی بر مزاری، بعدها مسعود و در مقطعی بر گلبدین و بالاخره بر بخش هایی از طالبان سرمایه گذاری کرده است. در زمان اشغال کشور ما بوسیله نیروهای خارجی، رژیم ایران نیروهای وحشی طالب را در نقاط مختلف مرزی ایران آموزش داده و با دادن سلاح و مهمات برای کشتن و ویرانی سازماندهی کرده است. بیجا نیست که امروز در میان طالبان، گروه های وابسته به ایران همدردی و سمپاتی بیشتر رژیم آخوندی را با خود همراه دارد. همین بود که با روی کار آمدن وحوش طالبی، ایران با فرستادن دیپلومات‌های «تازه نفس» به افغانستان حسن نیت خود را نسبت به برادران طالب‌اش نشان داد و با تسلیمی کلید سفارت افغانستان از شورای نظاری های به طالب‌ها میزان عمق رابطه و همفکری‌اش را با برادران طالبی‌اش نشان داد.

رژیم فاشیستی ایران با فاشیست های مذهبی افغانستان (جهادی و طالبی) برادران دو روی یک سکه فاشیزم دینی هستند. رژیم فاشیستی ایران در کودک کشی، جنایت، قتل‌عام، تجاوز به زنان و کودکان و نوکرمنشی هیچ تفاوتی با فاشیست های مذهبی کشور ما ندارد.رژیم ایران نسخه سیاه و سفید و قدیمی طالب در ایران است و هیچ فرقی بین خامنه‌ای و هبت‌الله وجود ندارد. این که رژیم ایران ظاهراً مجبور شده شدت و حدت جنایات خود را در مقابل مردم کم کند، از ترس اعتراض و مبارزه مردم آگاه ایران است؛ ورنه گیر دادن به موی و لباس زنان کار همیشگی این رژیم بوده و فاشیزم مذهبی آن بر همه عیان است.

برای همین فاشیست های دینی، چه در تهران چه در کابل هیچ گاه دوستان مردم ما شده نمی توانند. اینها دوستان صمیمی جهادی های مثل عطا محمد نور، اسماعیل خان، احمد مسعود، محقق، خلیلی، ملاهبت الله، مولوی متقی و سایر نوکران مرتجع هستند و همین است که با طرد یکی، دیگری به گیله و شکوه شروع می کند. هیچ انسان شرافتمندی از افغانستان نمی تواند با رژیم سفاک ایران، «پل» بزند و عکس آن هیچ ایرانی آگاه و شرافتمند نمی تواند از طالب ها و جهادی های فاشیست دفاع کند. مردم ما ضمن این که رژیم آخوندی ایران، امارت اسلامی طالبان و جهادی ها فراری را دشمنان مردم ایران و خود می دانند، آگاهی بیشتر دو ملت و اتحاد و همبستگی میان تهیدستان ایران و افغانستان را راه نجات دایمی از ستم «ولایت فقیه» و «امارت» و انواع فاشیزم دینی می دانند.

**رژیم فاشیستی ایران با فاشیست های مذهبی افغانستان (جهادی و طالبی) برادران دو روی یک سکه فاشیزم دینی هستند. رژیم فاشیستی ایران در کودک کشی، جنایت، قتل‌عام، تجاوز به زنان و کودکان و نوکرمنشی هیچ تفاوتی با فاشیست های مذهبی کشور ما ندارد.رژیم ایران نسخه سیاه و سفید و قدیمی طالب در ایران است و هیچ فرقی بین خامنه‌ای و هبت‌الله وجود ندارد.**

## آزادي

پل الوار

د مکتب په کتابچې
په څوکی
په ونې
په شګې، په واورې
آزادي لیکمه.

په لوستو پاڼو
په ډکو پاڼو
په ډبرو، په وینو
په کاغذونو، په ایرو
آزادي لیکمه.

په زرینو انځورونو
د جنګیالیو په وسلو
د پاچاهانو په تاجونو
آزادي لیکمه.

په ځنګلونو، په صحراګانو
د مرغیو په ځالو، د ګلونو په غوټیو
د ماشومتوب په یادونو
آزادي لیکمه.

د شپې په حیرانتیاوو
د ورځې په غنمګینې ډوډۍ
د مینې په موسمونو
آزادي لیکمه.

## با قباحت زدایی از جنایتکاران...



علیه جنایت طالب ندارند؛ یکی از علل آن قباحت‌زدایی از جنایتکارانی مربوط به سایر ملیت‌ها به وسیلهٔ روشنفکران همان ملیت هاست. وقتی یک روشنفکر تاجیک به تطهیر احمدشاه مسعود می‌پردازد و قبح جنایت را به نامهای گونه‌گون از او می‌زداید؛ وقتی یک روشنفکر هزاره کشتار مزاری را جنگیدن برای عدالت نام می‌نهد و به این‌گونه او را تطهیر می‌کند؛ وقتی یک روشنفکر ازبیک جنایت دوستم را جنگ برای هویت ازبیک‌ها نام می‌گذارد، عده‌ای از روشنفکران پشتون به جای اینکه به افشای جنایتکاران طالب بروند، مثل روشنفکران فوق‌الذکر وظیفهٔ خود را تطهیر طالبان و سایر جنایتکاران پشتون می‌سازند. ۳) قباحت‌زدایی از جنایتکاران، به سود مردم برای ایجاد مقاومت واقعی مردمی مبتنی بر ارزش‌های دموکراتیک و سکیولار نیست. با تطهیر جنایتکاران، عملاً طناب جنایت و اسارت بر گردن مردم ما بیش از پیش سفت‌تر گره می‌خورد و مانع تغییرات رادیکال شده، حاکمیت جنایتکاران را تداوم می‌بخشد.

در کنار موارد فوق یاددهانی این نکته نیز بسیار مهم است که هر گاه به قباحت‌زدایی از جنایتکاران پرداخته می‌شود، برای یکبار که هم شده با خود فکر کنیم که این جنایتکاران چه زندگی‌هایی را که نگرفتند، چه جوان‌هایی را که نکشتند، چه انسان‌های رشیدی را که شکنجه نکردند و در کوته قلفی‌ها و زندان‌ها و اسارتگاه‌ها چه زندگی‌هایی را که نابود نکردند. وقتی به تطهیر جنایتکاران می‌پردازیم، درد و رنج و کشتاری مردمی را به یاد آوریم که این جنایتکاران عاملان آن بودند. وقتی برای قباحت‌زدایی از این و آن جنایتکار عرق می‌ریزیم، ضجه‌های دلخراش دختران و زنانی را به یاد آوریم که این جناوران بر عفت شان تاختند و روح و روان شان را لگدمال کردند. وقتی به قباحت‌زدایی از جنایتکاران می‌پردازیم به یاد آوریم که چه کودکان تهیدست و زنان فرودست در بمباردمان‌ها و کشتارگاه‌های این ستمگران نابود نشدند. ما حق نداریم با تطهیر جنایتکاران به قربانیان جنایت توهین کنیم. حداقل وظیفهٔ یک انسان روشن و مهربان، احترام به زخم‌هایی است که مردم از قاتلان و جنایتکاران دیده اند. با قباحت‌زدایی از ستمگران، به رنج و آلام ستمدیدگان توهین نکنیم!

# د افغانستان توتالیتر اسلامی ...

که څه هم نهه میاشتنی و، خو ناوړه اغیزه یې دومره ژوره وه چې لا د دې بلا ړاړوونکې او داړونکې منګولې زموږ پر پرګنو او په تیره بیا د میرمنو پر بدن ښخې دي. د دې اسلامي امارت یو لوی خیانت د ښځو د حقونو ځپل او له ټولنې شړل وو. خادم دین رسول‌الله په «حبیب‌الاسلام» کې د ښځو په اړه سفارشونه وړکړل چې«رفع حجاب که آزاد گذاشته شده بود لغو و بعوض مقرر گردید که هیچ زن بی محرم خود از خانه نبراید»، «مدرسه مستورات که دخترها از خانه‌های خود برآمده در آنجا سبق می‌خواندند موقوف شد»، «دیگر مدرسه‌ها که بچه‌های اهالی که شرعاً منزله دختر بالغه را دارند و در آن مکتبها درس‌هائی که از مفاد دینی و علم شرایع و احکام قرانی بران‌ها مرتب نیست... اینهمه مکتبها لغو شد.» هغه د پاچاهی په فرمان کې وویل چې «ترک ستر را که حکم کرده بود مسترد کردم»، «برآمدن زنان و دختران بالغه را بدون اجازه ولی شان و مکتب مستورات را متوقف کردم»، «فرستادن دخترها را که در خارجه نموده بود چون بدناموسی ملت بود جایز ندانستم و آنها را خواسته دیگر فرستادن را قطعاً ممنوع نمودم.»

د دې تر څنګ کومه اعلامیه چې د ۱۳۴۷ د شعبان په ٦مه خادم دین رسول‌الله چمتو او په هغه کې د امان‌الله خان د همکارانو لاسلیک واخیستل په څرګند ډول د ښځو ضد بوین دریځ ښکاره کوي. په دې اعلامیه کې د نورو مواردو تر څنګ د ښځو له حقونو د امان الله خان ننګه او دفاع د «عادت کفار» او «ترک دین» و ګڼل شول: «اینکه به مضمون آیات قرآنی که مرد اجنبی از زن اجنبیه و زن از مرد بیگانه چشم خود را نگاه بدارد، این امر اعظمای خداوندی را گذاشته، بخلاف آن اعلان ترک ستر داد»، «اینکه خروج زن کبیره و بالغه را بدون اجازه زوجش و ضرورت شرعی مشارع جواز نداده، این امان‌الله همگی دخترها و زنها را بمکتب مقرر کرده، پرده ناموس ما مسلمانان را دریده که تا امروز مکتب اناثیه جاری بود»، «اینکه در هیچ ملت و مذهب اسلامی رواج نشده و نیست که دختران بالغه اسلامی را از دار اسلام کشیده، بدون محارم در بلاد کفر روانه کرده که تا خط و مناعت انگریزی را یاد بگیرند؛ از این کار قبیحه‌اش ما جمیع اهالی اسلامی مطعون همگی اهالی بلاد کفر و اسلامیه شده بودیم، در هیچ زمان هیچ پادشاه چنان ظلم صریحه را نکرده و نخواهد کرد.» او په دې توګه خادم دین رسول‌الله د ښځو پرمختګ، پوهه او پیلیدونکې انساني ژوند وځپو او د ټولنې دا نیمایي ځواک یې له ټولنیز ژوند ورتو.

**د مسعود - رباني اسلامي دولت:**

جهادي اخوانیان چې د خادم دین رسول‌الله په پل روان دي، په ۱۳۴۹ کال کې د «جوانان مسلمان» تر نامه لاندې د ښځو په وړاندې عملي کرکه ښکاره کړه. دې اخوانیانو د میرمنو د جامو د بڼې او سینګار په وړاندې د میرمنو په پښو ډزې او ان په مخونو یې تیزاب وشیندل. جهادیان، په ټولیز ډول ښځې هغه وینځې ګڼي چې له ټولنې باید ورټل شي او د توکي او متاع په شان د نارینه په واک کې وي. جهادیانو، ښځې په شنیع ډول د جګړه‌ییزې وسلې په توګه وکارولې. په کابل کې د بیلابیلو ملیتونو پر میرمنو د تنظیمي ځناورو تیری او تجاوز په یاد لرو.

که جهادي خپرونو ته ځغلنده کتنه وکړو نو په روښانه توګه وینو چې اخوانیان او جهادیان ښځو ته د څاروي په سترګه ګوري. دوی ته ښځې نه یوازې دا چې د نارینه په شان د ټولنې، اقتصاد او سیاست یو محرک ځواک نه دی، بلکې هغه نانځکې دي چې دوی یې بشپړ مالکان دي. همدا هم دی چې د ګلبدین حکمتیار«تنظیم اسلامي زنان افغانستان» د «نساء» د ۱۳۷۰ د سنبلې او میزان په ۱۳ او ۱۴ مسلسلې ګڼې کې لیکي چې «شکل حق انتخاب برای زن و یا حق عضویت زن در شورای اسلامی به این مفهوم نیست که گویا زنان نیز به مثل مردان حق کاندید شدن برای ریاست دولت را دارا می‌باشند چه کاندید شدن زن برای ریاست دولت بنابر نصوص شرعی حرام و محظور شمرده شده است»، «ستر عورت برای زنان معلوم شده. مانند جاهلیت به ناز و کرشمه از خانهٔ خویش خارج شده نمی‌تواند، وقتی با مردان روبرو می‌شود باید چشمانش را پایین اندازد...»، «زن باید سیرت و مظهر اسلامی داشته باشد و به واجبات اسلام ملتزم و پیرو باشد تزکیه نفس داشته باشد و از اختلاط با مردان جداً پرهیز نماید و حجاب شرعی را کاملاً مراعات نماید.»

همدا ډول برهان الدین رباني په «ندای زنان مسلمان افغانستان» د ۱۳۷۰ کال د سلواغې ۵مه ګڼه کې د ښځو په اړه د ګلبدین په شان زهرجنې څرګندونې کوي: «ستر و حجاب است که مانع نفوذ وسوسه‌های شیطانی می‌گردد... حجاب کوری چشم شیطان است... زن بی‌حجاب شرف و عزتی ندارد و هم در نزد مردم خوار و حقیر می‌باشد و مورد تاخت و تاز نگاه‌های شهوانی و انتفاع جنسی چشمان انسانهای هوس‌باز می‌باشد نتیجه آن این می‌شود که شخصیت زن در زیر لگد هوس‌بازان خورد و نابود می‌شود و عصمت و عفت زن برباد رود...»، «تاریخ بشر اینرا ثابت کرده که بی‌حجابی سبب و علت معلولاتی اعمال قبیحه چون خلوت با زنان بیگانه، رقص و حرکات حیاسوز و زنا و بدکاری می‌گردد...»، «حضور زن بی‌حجاب مایه همه فسادهای اجتماعی و فردی می‌باشد که به فرد فرد جوامع بشری غیرقابل انکار است... و همچنان از اجرا و لوازم حجاب به ناز و نخره راه نرفتن و نرم و نازک سخن نه‌گفتن زنان است و اگر زنان مرتکب این اعمال شوند دروازه‌های فساد بروی اجتماع باز می‌شود.»

نو کله چې دې بنسټپالانو په ۱۳۷۱ کال کې د مسعود- رباني امارت په بنه په پلازمینه تکیه ووهله، ښځمنې په بیرحمانه توګه وربرولې او پر هغوی له هیڅ ډول بلوسنې ډډه ونکړه. پر میرمنو تیری وشو، سینې یې پرې شوې، د زیرون ننداره یې وشوه او د سوالګری، بدلنې او فقر کندو ته ګوزار شوې. که څه هم په لومړي کال کې د مسعود- رباني اسلامي دولت د ښځو په وړاندې کومه ښکاره پریکړه صادره نکړه، خو د تنظیمي ځناورو تر منځ جګړه او پر ښځو او پیغلو نجونو تیری او حاکم دار، عملاً ښځې په کورونو کې زنداني کړې وې. له دې سره سره، د جهادیانو اسلامي دولت د ښځو په هکله اندیښنه درلوده او همدا و چې د ستري محکمې د دارالافتا او مطالعاتو ریاست د ۱۳۷۲ کال د سنبلې په ۵مه د «افغانستان د اسلامي جهاد د قهرمانانو او قوماندانانو» په غوښتنه د «فتوای شرعی ستر و حجاب» تر نامه لاندې فتوا صادره کړه چې یوځل بیا یې د خادم دین رسول‌الله تاریخ لا په بوینه او کرغیړنه توګه راژوندی کړ. په دې فتوا که راغلي چې «ستر و حجاب زنان فرض است، منکر آن کافر و مرتکب آن فاسق و ارتکاب آن گناه کبیره است که به نصوص قطعی ثابت است.» د ستر او حجاب د توضیح لپاره د نورو ټکو تر څنګ د دې یادونه شوې چې: «لباس باید دارای زینت و رنګ‌های گوناگون نباشد که نظر مردم را به خود جلب کند و لباس باید معطر نباش که توجه مردم را بخود جلب کند».

# د افغانستان توتاليتر اسلامی ...

د مسعود - رباني اسلامي دولت د دې تر څنګ چې ټينګار کوي ښځو ته له تعليم څخه موخه يوازې د دينې مسائلو زده‌کړه ده نو داسې فتوا يې صادر کړه: «کار زنان با مردان در دفاتر و شهرها و تعليم و تعلم آنان در مکاتب عصرى، خلاف مشروع و پيروى از غرب و نظام‌هاى لادينى بوده و شرعاً حرام قطعى است... از مسئولين دولت و حکومت جداً و اکيداً خواسته مى‌شود که تمام احکام الهى خصوصاً ستر و حجاب را على‌الفور عملى گردانند و زنها را از دفاتر بيرون رانده و مکاتب زنها را که در حقيقت مراکز زنا و فحشا است، مسدود نمايند و هم از راديو تلويزيون ايشانرا بيرون کشيده تا براى ادعاى ايشان بر تنفيذ احکام الهى مصداق پيدا کند.»

او په دې ډول د جهاديانو اسلامي دولت د خادم دين رسول‌الله له واکمنۍ نږدې ٦٥ کاله وروسته يوځل بيا د نجونو مکتبونه د فحشا او زنا مرکزونه وګڼل او څو کاله وروسته يې د سياسي اسلام استبدادي واکمنې، د طالبانو په نامه د خادم دين رسول‌الله نورو پيروانو ته وسپارله چې د همدوې پر لاره روان وو او لا دي.

**د طالبانو اسلامي امارت:** طالبان د جهاديانو په شان هغه فاشيستي ډله ده چې د سياسي اسلام پر مټ واک چلوي. د طالبانو اسلامي امارت په لومړنۍ توتاليتره واکمنۍ کې د ښځو په وړاندې هغه دريځ ونيو چې جهادي مرشدانو يې نيولى و. دوى د خپل مرشدانو په څير ښځې انسانانې نه بلکې د شهوت وسيله ګڼله او د برهان‌الدين رباني په شان يې د ښځو د بوټانو غږ تحريکوونکى ګڼو. د طالبانو اميرالمومنين ملاعمر په خپله لومړنۍ مرکه کې چې د ١٩٩٧ کال د فبرورۍ په اتمه په «لوموند» کې خپره شوه، وويل چې ښځې ضعيفې دي او که چيرې له کوره ووځي نو د نارينه د عياشى سبب کيږي. نو د برقع اغوستل د ښځو لپاره حتمي دي چې نارينه يې څيره ونه ګوري او په عمر يې پوه نشي. ښځې د دې په ځای چې د لويديځ مخ لوڅو ښځو په غمجن برخليک اخته او په رنګينو نانځکو او جنسي بازيچو بدلې شي، کولای شي په کور کې او د برقع لاندې خپل معنوي منابع ته انکشاف ورکړي.

د ملاعمر همدا ذهنيت او باور د ١٩٩٧ کال د اکتوبر په لومړيو کې د فرمانونو په توګه د راډيو شريعت له طريقه خپور شوى چې د نورو مواردو تر څنګ يې دا موارد هم ابلاغ کړل چې ښځې د کار او تحصيل حق نلري. ښځې بی له محرمه په بازارونو کې د پيريدلو لپاره د ګرځيدو حق نلري. د هتيو مالکان حق نلري هغو ښځو باندې سودا وپلوري چې يوازې راغلي وي. ښځې د سپين رنګه پرتوګ د اغوستلو اجازه نلري او د جګو پوندو بوټانو هم پر پښو کولی نشي ځکه چې د ښځو د بوټانو غږ نارينه تحريکوي. د کورونو شيشې بايد تورې شي چې ښځې د کورونو له منځه په کوڅو کې لاروپان ونشي کتلی او د موټرو شا شيشې هم بايد ليرې شي چې ډريور شاته ناستې ښځې ونه ګوري، هيڅ ډريور حق نلري چې داسې ښځه چې مخ يې پټ نه وي او تحريکوونکي جامې اغوستې وي، په موټر کې سپرې کړي.

٢٤ کاله وروسته لا هم له ښځو سره د طالبانو اسلامي امارت دښمني او عداوت ادامه لري. اوس چې د طالبانو اسلامي امارت بيا واکمن شوى دى، ښځې يې له تعليم او تحصيل محرومې کړي، کار ته يې نه پريږدي او بې محرمه سفر نشي کولاى، د حجاب او ستر تر نامه لاندې له ټولنې، سياست، اقتصاد او فرهنګ شړل شوې دي او په بيلابيلو ډولونو ربړول کيږي. د طالبانو چارواکي باور لري چې د ښځې حجاب او ستر د خربوزې په شان دى که ښځه حجاب ونلري نو يوه چاک شوې خربوزه ده چې هيڅوک هم چاک شوې خربوزه نه خوښوي. دوى ښځه له چاکليټ سره پرتله کوي او وايي «اگر بدون محرم برابيم مثل چاکليت بى‌پوش مى‌شويم و وقتى که چاکليت بى‌پوش شديم و به بازار برويم مگس و پشه و هر چه بالاى ما مى‌نشيند». دوى د برهان‌الدين رباني په شان چې د «نداى زنان مسلمان افغانستان» د ١٣٧١ کال د حمل د ١٠مې نيټې په خلورمه ګڼه کې ليکلى «هر آن زنيکه خوشبوئى و عطر بزند و سپس بر قومى مرور کند که بوى آن عطر را دريابند آن زن زانيه است و هر چشم زناکننده است»، «مى توان گفت که بوت‌هاى کورى بلند زاغ نول در وقت رفتار صداى تک تک آن بر مى‌آيد و امکان آن نيز نيست که صداى آن بلند نشود و با پا کردن همچو بوت‌ها حرکت و رفتار عادى نيز تغيير مى‌خورد.عضلات ساق‌ها رانها بلند و بحرکت غير عادى مبدل مى‌گردد، بناً در بيرون خانه از همچو بوتها خوددارى شود.» او همدا ډول د يادې مجلې د ١٣٧٠ کال د سلواغې ٥مه په دويمه او دريمه ګڼه کې ليکي «زنانى اگر موهاى خويش را خينه و رنگ ميزنند. پلک ها و مژگان و ابروى شانرا چنگ مى کنند. بالاى رواق چشمان خود رنگ نيل ميزنند، سرخى و سفيده را بر رخسارهاى شان مى‌مالند، اين چنين آرايش باجازه شوهران شان جايز ميباشد. مگر متوجه بوده باشند که با همچو آرايش و زيب و زينت از خانه بيرون جايز نبوده»؛ نن د هغه طالب شاګردان هم ورته کرکجنې څرګندونې کوي. يو له دوى د طلوع تلويزيون سره په ګردي ميز کې وايي چې «خاص شرطونه چې هغه يوازې د زنانه‌و لپاره وضعه شوي دا دي چې جامې بايد لنډې نه وي، نازکې نه وي، چسپې نه وي، رنګ يې جذاب نه وي، دويم شرط دا دى چې زنانه بايد عطرآګين نه وي، له کوره چې وځي خوشبوداره نه وي، دريم دا چې بوټان يې آواز ونکړي دا بوټ چې آواز کوي دا څه مانا لري، دا د ځوانانو لپاره يو اعلان دى چې اى ځوانه اى خوابرده ما آرايش کرده‌گى از خانه بيرون شده‌ايم شما خوابرده هستيد و طرف ما نمى‌بينيد»!

دا د ښځو په وړاندې د سياسي اسلام هغه دريځ دى چې لږ تر لږه د ١٣٠٧ کال راپديخوا مو په کراتو ليدلى دى. په دې موده کې وينو چې اسلامي بنسټپالان د ټولو لومړى او زيات د ښځو د حقونو او پرمختګونو او په ځان بساينې دښمنان دي، خو بدبختانه يو شمير ميرمنې سره د دې، د ژبې او توکم په بنا له خپلو قومي بنسټپالانو دفاع کوي او دا دفاع په حقيقت کې د بندګۍ د ځنځيرونو د تداوم په مانا ده. که ذکر شوي درې اسلامي امارتونو ته پام وکړو نو جوته کيږي چې ټول اسلامي امارتونه د ښځو په وړاندې يو ډول کرغيړن دريځ او چلند لري. نو د افغانستان ستمځپلو ښځو ته په کار ده چې د اسلامي بنسټپالۍ جغ له خپلو اوږو ليرې او د ښځو په يو دموکرات او سيکولار غورځنګ کې د برابرۍ لپاره مبارزه وکړي. اسلامي بنسټپالۍ هيڅ چا ته په تيره بيا ښځو ته هوساينه او رفاه نشي ورکولاى!

گرچه شب تاریک است

دل قوی دار

سحر نزدیک است

# Peshgaam

August 2023 • Political & Analytical • Issue No (2)


# با قباحت‌زدایی از جنایتکاران، به رنج و آلام ستمدیدگان توهین نکنیم!

عشق به رهایی و برابری بدون نفرت از ستمگران و جلادان بی معنی و بی ارزش است. آنانی که از جلادان، قاتلان و شکنجه گران متنفر نباشند، ادعای عشق شان به مردم، به آزادی و برابری دروغ و ریائی بیش نیست.

تاریخِ جوامع طبقاتی، نبرد طبقاتی است. در این نبرد، طبقات ستمکش، فرودست و مدافعان آن در یک طرف و طبقات بهره‌کش، ستمگر و حامیان آن در طرف دیگر صف می‌بندند.آنانی که میان این دو، در رفت‌وآمد اند و ظاهراً بنر ضد «ایدئولوژی» حمل می‌کنند، تجارب نشان داده که اکثراً در کنار ستمگران قرار گرفته و به حامیان آشکار و پنهان دشمنان مردم تبدیل شده اند. این «بی ایدئولوژی‌ها» در نهایت مدافعان سرسخت ایدئولوژی ستم و غارت هستند.

یکی از ماموریت‌هایی که این «بی ایدئولوژی»ها انجام می‌دهند، تحریف تاریخ و از جمله قباحت‌زدایی از جنایتکاران و قاتلان است. تاریخ را نمی‌توان با قباحت‌زدایی از جنایتکاران تحریف کرد. آنانی که تلاش می‌کنند با تطهیر و قباحت‌زدایی از جنایتکاران، تاریخ را تحریف کنند، حامی جنایتکاران هستند؛ ولو صدبار لباس مردم‌دوستی بر تن کنند. همیار مردم و مدافع رنجبران و فرودستان نمی‌تواند از قاتلان نفرت نداشته باشد. عشق او به مردم و یاری او به توده‌های تهیدست، در نفرت بی‌پایان او از دشمنان مردم تجلی می‌یابد.

متأسفانه دیده می‌شود که قباحت‌زدایی از جنایتکاران به مشغلۀ عده‌ای از روشنفکران تبدیل شده است. شماری از روشنفکران با درنظر گرفتن پیوندهای خاص در صدد ویران کردن مرز میان قربانیان و قاتلان، مردم و ستمگران و ستمدیدگان و جنایتکاران هستند. گاه یک شعر، ترانه، اثر هنری، تحقیق و پژوهش، داستان و ترجمه، نقاشی و موسیقی و خدمت به غنای زبان و حتی قیافه و خوش تیپی این و آن جنایتکار سبب می‌شود تا چهرۀ خونین او تطهیر و بر سیمای خون‌آلودش نقاب زیبای «هنر»، «فرهنگ» و «زبان» کشیده شود.

در بیست سال گذشته روشنفکران ما قباحت زدایی از جنایتکاران را به اوج‌اش رساندند. تلاش‌های فراوانی برای تطهیر جنایتکاران جهادی صورت گرفت. خیلی از روشنفکران و فرهنگیان به پای جهادی‌ها خم شدند. جهادی‌ها از نویسنده تا شاعر و ترانه‌سرا و ژورنالیست و آهنگ‌سرا و... استخدام کردند تا وحشی‌گری و خونریزی جنایتکارانۀ شان را به وسیلۀ **ص۶**

# د افغانستان توتالیتر اسلامي دولتونه او د ښځو ضد کرغېړن دریځونه

د سیاسي اسلام واکمنتیا چې تل له استبداد او زورواکۍ سره مل ده، هغه اسلامي حکومتولي ده چې د تمدن، پرمختګ او د برابرۍ په وړاندې درېږي. د دې تئوکراتیکې واکمنتیا یو کرغېړن اړخ ښځځپنه ده. تئوکراتیک حاکمیتونه، ښځه یو مستقل انسان نه، بلکې د نارینه ملکیت او ابزار ګڼي. دا حاکمیتونه ښځه هغه توکي او متاع شمیري چې نارینه یې څښتن دی او څښتن حق لري په هره بیه دا توکي او متاع وپیري او د برخلیک په اړه یې پریکړه وکړي. د سیاسي اسلام په حاکمیت کې، واکمنان د دې تر څنګ چې د ټولو انسانانو حقونه او آزادۍ وژني او د عقایدو تفتیش یې ورځنۍ چاره وي، خو له ښځو سره لابیرحمانه او ستمګرانه چلند کوي. دا واکمنان نه یوازې ښځې له سیاسي، ټولنیز، فرهنګي او اقتصادي ګډون بې برخه کوي، ان د هغوې تن، جامه، بوټان، غږ او خندا هم څاري.

د مارچ اتمه، د ښځو د مبارزې په ویاړ ټاکلې ورځ، په داسې حال کې رارسیږي چې د افغانستان ښځې د سیاسي اسلام د استبداد تر لاندې ځورونکې او دردېدونکې ورځې تیروي. طالبان چې د اسلامي جمهوریت وروسته د واک پر ګدۍ ناست دي، د سیاسي اسلام د زورواکۍ او اېلونې هغه لړۍ ده چې بیلګې یې دمخه هم لیدل شوي دي. دا بیلګې په څرګنده ښکاره کوي چې سیاسي اسلام که سقویستي وي، که جهادي او که امارتي او ان «جمهوریتي»؛ له ښځو سره یې چلند ستمګرانه، بیرحمانه، غیر انساني، ارتجاعي او ابزاري وي.

په دې لیکنه کې له ښځو سره د سیاسي اسلام د درې کرغېړنو واکمنیو هغه دریځ او چلند ته ځغلنده کتنه کوو چې بوی یې بې حده ځورونکی دی. دلته، پر میرمنو د دې تئوکراتیکو حاکمیتونو د هغه تیرې، شکنجې، وژنې، ځورونې او بیوزلې یادونه نه کوو چې د دې ډول حاکمیتونو ورځنۍ چاره ده.

**د خادم دین رسول الله اسلامي امارت:** وروسته له هغه چې حبیب‌الله ککاني مشهور په خادم دین رسول‌الله په ۱۳۰۷ کال کې اماني نوې راټوکیدلی تمدن په شا وتمباوه او د اسلامي امارت خپسې یې پر خلکو او په تیره بیا پر میرمنو چې نوې یې د آزادۍ او پرمختګ په لور ګامونه ایښي وو، خپره کړه، داسې یو ناتار وزیږید چې لادوام لري. دا ناتار چې په لنډه ورته سقویزم ویلې شو، د داسې شاتګپالنې بنیاد یې کیښود چې د نورو بنسټپالو سقویستانو لخوا ورته دوام ورکړل شوی دی. د خادم دین رسول‌الله تئوکراتیک امارت **مخ۹**